بسم الله الرحمن الرحيم

د بخښونکی ډیر مهربان خدای په نامه

قَالَ اللهُ تَعَالی:

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا﴾

سوره الأحزاب: **۳۳**

**پاک الله فرمايي:**

"**بيشکه الله تعالی غواړي چې اي د (رسول) اهلبيتو**علیهم السلام **له تا سو نه دې هر قسمه پليتي لرې وساتي او تاسو داسې پاک او صاف کړي لکه څنګه چې د پاکۍ حق دے.**"

# د اصحابو عدل

قَالَ رَسُولُ الله ﷺ:

«إني تاركٌ فيكُمُ الثَقلين: كتاب الله، وعترتي أهلَ بيتي، ما إن تمسكتُم بهما لن تضلوا أبداً وأنَّهُما لَن يَفترقا حتّى يردا عَليَّ الحوضَ».

رسول الله ﷺ وفرمایل:

زهٔ تاسو ته دوه درانه او ارزښتناک څیزونه پرېږدم: یو د خدا ے کتاب (قران) او بل زما اهلبیت، که چیرې په دې دوو مو منګولې ولګولې نو هیڅ کله به له ما وروسته بې لارې نه شئ، او دا دوه به یو له بله جدا کیږي نه تر دې چې د حوض (کوثر) په غاړه ما ته راورسیږي.

(صحیح مسلم، ۷ ټوک، ۱۲۲ مخ، سنن دارمـــي، ۲ ټوک، ۴۳۲ مـخ، مســند احمــد، ۳ ټــوک، ۱۴، ۱۷، ۲۲او ۵۹ مخونــه، ۴ ټــوک، ۳۶۶ او ۳۷۱ مخونــه، ۵ ټــوک، ۱۸۲ مــخ، مســتدرک حـــاکـم، ۳ ټوک، ۱۰۹، ۱۴۸ او ۵۳۳ مخونه، او داسې نور کتابونه....)

# د اصحابو عدل

ليکوال:
علامه سيد مرتضىٰ عسکري

مترجم :
سرفراز علي مهدي

د اهل بيتو نړيواله ټولنه

نام کتاب: علی مائدة الکتاب والسنة جلد٤ ؛ الصحابی و عدالته

نویسنده: سید مرتضیٰ عسکري

تهیه کننده: مجمع جهانی اهل بیت علیهم السلام - اداره ترجمه

مترجم: سرفراز علي مهدي

زبان ترجمه: پشتو

**د کتاب نوم :**

د اصحابو عدل

ليکوال: علامه سيد مرتضی عسکري

تيارونکې: د اهلبيتو د نړيوالې ټولنې د ژباړې څانګه

ژباړه او کمپوز: سرفراز علي ايم اے عربي

تصحيح : انور شاهين خانخېل

آخري چيکنګ: ډاکټر عبدالرحيم دراني

صفحه بندي: فاطمه ګلزار

چاپ نيټه : ١٤٣٧هـ ق (بمطابق ٢٠١٦م)

دچاپ وار: وړومبی

شمېر :٢٠٠٠

چاپ خانه: اسراء

خپروونکې: د اهلبېتو نړيواله ټولنه

ISBN: ٩٧٨-٩٦٤-٥٢٩-٠

www.ahl-ul-bayt.org

info@ahl-ul-bayt

# لړلیک

په دوارو مکتبونو کښې د صحابي تعریف ≻ ۱۱
۱- د خلفاؤ په مکتب کښې د صحابي تعریف ≻ ۱۱
۲- د اهلبېتو علیهم السلام په مکتب کښې د صحابي تعریف ≻ ۱۳
۳- د خلفاؤ په مکتب کښې د صحابي د پېژنګلو ضابطه ≻ ۱۵
۴- د صحابي د پېژنګلو په ضابطې باندې اعتراض ≻ ۱۷
په دوارو مکتبونو کښې د اصحابو عدل او انصاف ≻ ۲۵
۱- د اصحابو د عدالت په باب د خلفاؤ د مکتب نظریه ≻ ۲۵
۲- د اصحابو د عدل په حقله د اهلبېتو علیهم السلام د مکتب نظریه ≻ ۳۲
د اهلبېتو علیهم السلام مکتب د قران کریم په پیروی کښې وائي ≻ ۳۲
۳- د مؤمن او منافق د پېژندنې ضابطه (قاعده) ≻ ۴۲

# په دواړو مکتبونو کښې د
# صحابي تعريف

## ۱- د خلفاؤ په مکتب کښې د صحابي تعريف

ابن حجر د خپل کتاب "الاصابه" په سريزه کښې د صحابي په تعريف کې وائي:

صحابي هغه څوک دے چې پېغمبراکرمﷺ يې ليدلے، په هغه يې ايمان راوړے او مسلمان مړ شوے وي، که له پېغمبرﷺ سره د هغۀ ملګرتيا او ليدنه لږه وي يا ډيره، له پېغمبرهﷺ يې روايت کړے وي يا نه، له پېغمبرﷺ سره غزا ته تللے وي يا نه، دغه ټول وګړي زمونږ له تعريف سره سم: چې پېغمبرﷺ يې ليدلے وي صحابي بلل کيږي، ان تر دې که چرې يوازې يو ځل يې پېغمبرﷺ ليدلے او ورسره

یې ناسته هم نه وي کړې، او یا یې د نابینائۍ له کبله هغه مبارک په خپلو سترګو نۀ وي لیدلے.[۱]

هغه د خپل کتاب په یوه بله برخه کښې وائي: "هغه ضابطه او قاعده چې پرې په پوهېدو سره د ګڼ شمېر کسانو صحابي والے معلومیږي:

۱- هغوي (خلیفه ګانو) به په فتوحاتو کښې یوازې اصحاب په قومندانۍ ګمارل.

۲- په لسم هجري قمري کال کښې، په مکه مکرمه او طائف کښې هیڅوک نۀ وو خو دا چې اسلام یې راوړۀ او له پېغمبراکرمﷺ سره یې په حجة الوداع کښې ګډون وکړ.

۳- د اوس او خزرج دوو قبیلو ټولو وګړیو د پېغمبراکرمﷺ د دوران تر ختمېدو پورې اسلام راوړ ۀ یعنې مسلمانان شول.

۴- د پېغمبراکرم ﷺ له رحلته وروسته هم په هغوي کښې هیڅوک کافر نه شول.[۱]

۱. الاصابه،وړومبے ټوک، ۱۰مخ

زۀ دا وایم که چرې یو څېړونکے او محقق زمونږ د کتاب "یو سل او پنځوس جعلي اصحابان" برخې وجاجوي، نو د اصحابو په حقله د خلفاؤ د مکتب د تسامح او غفلت په ژورتیا او د حدیث په علم کښې یې په تاوان پوهېدې شي.

## ۲- د اهلبېتو علیهم السلام په مکتب کښې د صحابي تعریف

د صاحب جمع صحابه ده چې د ملګري او ناسته پاسته کوونکي په معنا دے او صحابي یعنې د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله له اصحابو هغه یو کس چې د هغه مبارک ملګرے او ورسره یې ناسته پاسته کړې وي او لکه څنګه چې ښکاره ده دا خبره یوازې د هغه چا په حقله رښتیا ده چې له هغه مبارک سره یې زیاته ملګرتیا او ناسته پاسته کړې وي، ځکه چې مصاحبت د اوږد مهاله ملګرتیا تقاضا کوي.[۲]

بله خبره دا چې، کله مصاحبت او ملګرتیا د دوو تنو تر مینځ وي، ناچاره باید د صاحب لفظ او د هغه جمع صحابه

---

۱. الاصابه، وړومبے ټوک، ۱۲مخ.
۲. مراجعه دې وشي لسان العرب او مفردات راغب، ماده "صحب" ته.

په کلام کښې له يو بل نوم سره ورزيات شي (مضاف او مضافٌ اليه) لکه څنګه چې په قران کريم کښې داسې راغلي ﴿يَـٰصَـٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ﴾[1] يعنې اے زما د بند يا جېل دوو ملګرو، او ﴿أَصۡحَـٰبُ مُوسَىٰٓ﴾ د موسیٰ ملګري. [2]

د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې هم ويل کيدل: «صَاحِبُ رَسُوْل الله" او "اَصْحَابُ رَسُول الله» يعنې صاحب او اصحاب يې له رسول الله سره ورزياتول.

لکه څنګه چې ويل کيدل "اَصْحَابُ بَيْتِ الشَجَرَةْ" او "اَصْحَابُ صُفَهْ" يعنې تول يې په اضافې او د بل په نسبت راوړل، او په هغه وخت کښې د صاحب او اصحاب لفظ به په يوازې سر او د مضاف اليه له راوړلو پرته، د پېغمبرکرمﷺ د اصحابو نوم نه ؤ خو د خلفاؤ د مکتب مسلمانانو ورو ورو د خدا ے د ګران رسولﷺ اصحاب، صحابه ونومول. نو

۱. سوره يوسف: ۲۹.
۲. سوره شعراء: ۶۱.

دا تسمیه او نومول، د متشرعه (په شریعت عمل کوونکو) اصطلاح او د مسلمانانو د نومولو ډول دے.

دا د صحابي په تعریف کښې د دوو مکتبونو نظریات وو.

## ۳- د خلفاؤ په مکتب کښې د صحابي د پېژنګلو ضابطه

په دې سربېره چې مو ویل، هغه کسان چې د خلفاؤ په مکتب کښې یې د اصحابو معرفي او حال تشریح کړے دے، د هغوي د پېژنګلوی لپاره یې ضابطه هم ښودلې ده، لکه څنګه چې ابن حجر په الاصابه کې وائي:[۱]

د هغو ناپېژندل شویو خبرو په شمول چې د صحابي په تعریف او پیژندګلوی کښې له مخکښانو (حدیث) تر مونږه رسیدلي. که څه هم په هغه څه نص او څرګند دلیل نیشته، یو روایت دے چې ابن ابي شیبه په خپل تصنیف کښې له نۀ رد شوې لارې نقل کړي دي چې هغوي (خلفاؤ) په فتوحاتو کښې یوازې اصحابو ته قومنداني ورکوله.

۱. الاصابه، وړومبے ټوک دیارلسممخ.

نامردوده لاره چې ورته اشاره شوې ده هغه روایت دے چې طبري او ابن عساکر په خپلو سندونو سره له سیف، ابو عثمان، خالد او عباده څخه نقل کړے دے، په هغه روایت کښې وائي:

"قوماندانان به تل اصحابان وو، خو کله چې به د مقام مناسب سړے په هغوي کښې نۀ موندل کیدۀ نو بل چا ته به یې دا مقام ورکوۀ."[1]

په یو بل روایت کښې طبري د سیف له قوله وائي:

" دویم خلیفه به تر هغه وخته چې په اصحابو کښې به یې مناسب وګړے او د جنګ وړ کس موندۀ، هغه ته به یې د قوماندانۍ له ورکولو ډډه نه کوله، او که چرې یې داسې وګړے نۀ موندۀ نو قوماندانې به یې "تابعین باحسان" ته سپارله او د راویانو په پرګنې کې هیڅ یوۀ د مشرۍ او قوماندانۍ تمه نه کوله."[2]

---

۱. تاریخ طبري، وړومبے ټوک، ۲۱۵۱مخ، د اروپا چاپ.
۲. تارخ طبري، وړومبے ټوک، ۲۴۵۷ او ۲۴۵۸مخونه.

## ۴- د صحابي د پېژنګلو په ضابطې باندې اعتراض

د استناد وړ د دواړو روایتونو مرجع، سیف بن عمر دے چې د حدیث پوهانو له نظره د حدیث په جعل کولو تورن او زندقه دے.[۱]

سیف دغه ضابطه له ابو عثمانه روایتوي، او ابو عثمان چې له خالد او عباده څخه د سیف په روایتونو کښې نقل کړے دے او سېف په خپل خیال هغه یزید بن اسید غساني نومولےدے، دا هغه نوم دےچې سېف په خپله د حدیث په راویانو کښې جوړ کړے دے.[۲]

د دغو راویانو له روایتونو چې ورتېر شو (هر څوک چې وو او هر څه چې وو) د هغو محتوا هم له تاریخي واقعیت سره سمون نه خوري، څکه چې د "اغاني" خاوند روایت کړے او وائي:

---

۱. مراجعه وکړئ: عبدالله بن سبا، وړومبے ټوک، د سیف د ژوند حال.
۲. مراجعه وکړئ: رواة المختلقون کتاب ته، (چې خطي نسخه ده) عبدالله بن سبا، وړومبے ټوک ۱۱۷مخ، د بیروت چاپ۱۴۰۳ه.

"امرؤ القیس شاعر د دویم خلیفه په لاس مسلمان شو او خلیفه هغه وړاندې تر دې چې حتیٰ یو رکعت نمونځ وکړي، په ولایت او قومندانۍ وګماره".

د دغه خبر تشریح به ورپسې روایت کښې له "عوف بن خارجه مري" څخه راغلې ده چې وائي: "په خدا ے قسم، زهٔ د عمر بن خطاب د خلافت په وخت کښې له هغه سره ؤم چې ومې لیدل چې د کړو پښو یو سړي (کجي) په لړو ویښتو سره د خلقو د سر د پاسه ګامونه اخېستل نو د عمر مخامخ ودریدهٔ او هغه ته یې د خلافت مبارکي وویله عمر ترې وپوښتل: "ته څوک یې؟" وې ویل: "زهٔ نصراني یم، زهٔ امرؤ القیس بن عدي کلبي یم" عمر هغه وپیژندهٔ او ورته یې وویل: څه غواړې؟ وې ویل: اسلام، عمر هغه ته اسلام وړاندې کړ او هغهٔ قبول کړ. بیا یې نیزه وغوښتله او په شام کښې د قضاعه[1] په مسلمانانو باندې د قومندانۍ بېرغ یې

۱. قضاعه، سترې قبیلې دي چې منجمله د حیدان، بهراء، بلي او جهینه قبیلې دي چې د هغوي مفصل حال د ابن حزم د انسابو په جمهره، ۴۴۰ او ۴۲۰مخونو کښې راغلی دی، د هغوي ټاټوبی په شحر بیا په نجران

وروتړۀ او دغه شېخ د ستنېدو په وخت ببرغ په خپل سر رپولے ؤ".[۱]

هم دغه رنګ د علقمه بن علاثه کلبي له مرتدېدو وروسته د هغۀ د قومندانېدو قصه ده لکه څنګه چې په "اغاني" او "اصابه" کښې د هغۀ د ژوند په شرح کښې راغلې ده.

علقمه د پېغمبر اکرمﷺ په وخت مسلمان شو او د خدا ے د ګران رسولﷺ صحبت يې درک کړ، بيا د وړومبي خليفه په زمانه کښې مرتد شو،خليفه خالد هغۀ ته ولېږۀ او هغه وتښتيدۀ. ويلي شوي دي چې هغه بيا راستون شو او مسلمان شو.

دا داستان په اصابه کښې داسې راغلی:[۲]

---

او ورپسې په شام کې وو، د زياتو معلوماتو لپاره د عربو قبائلو معجم ماده قضاعه ته رجوع وکړئ ۳ ټوک، ۹۵۷مخ.

۱. اغاني، ۱۴ ټوک ۱۵۷مخ، چاپ ساسي، په لنډه توګه د انساب العرب په جمهره، ۲۸۴مخ موندلی شئ.

۲. الاصابه دويم ټوک، ۴۹۲-۴۹۸مخ، اغاني ۱۵ ټوک ۵۲مخ، چاپ ساسي.

هغهٔ چې د حضرت عمر په زمانه کښې شراب وڅښل او خليفه هغهٔ ته سزا ورکړه، هغه مرتد شو او روم ته لاړ، د روم باچا يې درناوے وکړ او ورته يې ووېل: ته د عامر بن طفيل د ترهٔ زوے يې؟ هغه غصه شو او وې ويل: زهٔ له عامر[۱] بغېر نشم پيژندلے نو بيا راستون شو او مسلمان شو.

په اغاني او اصابه کښې راغلي دي: دا اغاني عبارت دے:

"کله چې علقمه (له اسلامه په مرتديدوپسې) مدينې ته ستون شو، د شپې په تياره کښې له عمر بن خطاب سره مخامخ شو، څنګه چې عمر چې شکل يې د خالد په شان ؤ او خالد د هغهٔ دوست ؤ، ګومان يې وکړ چې هغه خالد دے، نو سلام يې ورته وکړ او ورته يې ووېل: عمر تهٔ له قومندانۍ لرې کړې؟ عمر ووېل: هو، هم داسې ده، علقمه ووېل: په خدا ے قسم! ستا لرې کول يوازې د بخل او حسد

---

۱. د علقمه او عامر تر مينځ زړهٔ بدي پيښه شوې وه چې د خبر خاوندانو هغه روايت کړې او په اغاني کښې د پنځلسمټوک په ۵۰مخ موجوده ده، له دې امله علقمه نه خوښوله په دې خاطر چې د عامر د ترهٔ زوے دے، (عامر چې له هغه يې کرکه لرله).

له کبله وو، عمر وویل: له زمونږ سره د مرستې په باب څه خیال لرې؟ هغه وویل: خدا ے ته پناه! عمر په مونږ د اوریدلو او اطاعت حق لري او مونږ د هغهٔ په خلاف هیڅ کار نهٔ لروو.

سبا سحر کله چې عمر خلقو ته د ورتګ اجازه ورکړه، خالد او علقمه هم ورغلل، علقمه د خالد په څنګ کښې کښېناستهٔ، عمر علقمه ته مخ کړ او وې ویل: ووایه علقمه! هغه ته وې چې هغه خبرې دې خالد ته کړې دي؟

علقمه خالد ته مخ کړ او ورته یې وویل: اے خالده! ایا څه چې مې درته ویلي هغه دې اشوا کړي دي؟ خالد وویل: افسوس دې په تا وي! په خدا ے قسم زهٔ تر دې مخکې له تا سره مخامخ شوے نهٔ یم، زهٔ ګومان کوم هغه دې لیدلے دے، علقمه وویل: په خدا ے قسم، هماغه مې لیدلے دے.

بیا عمر ته متوجه شو او وې ویل: اے د مومنانو امیره! له نیکۍ نه بغېر دې څه نه دي اوریدلي. عمر وویل: هو، هم

داسې ده، ایا غواړې د حوران[1] واکمن دې کړم، علقمه وویل: هو، عمر هغهٔ ته د حوران واکمني ورکړه او هم هلته وو چې مړ شو.

په اصابه کښې زیاته شوې ده: عمر وویل: که له ما وروسته راتلونکو کسانو زما په باره کښې ستا په شان نظر درلود نو په ما به دا اخوا دیخوا کسان ډېر ګران وو.

هغه څه چې مو نقل کړل تاریخي حقیقت دے خو د خلفاؤ د مکتب عالمانو په هغه څه چې روایت کړي دي، استناد کړے او له خپلو روایتونو یې د خداے د رسولﷺ د اصحابو د پیژندګلوی ضابطه معلومه کړې ده، او په هم دې خاطر یې په زندقه تورن سیف بن عمر په شان جعلي وګړي، د پیغمبرﷺ په اصحابو کې شمیرلي دي.

---

۱. حوران د دمشق په خوا کښې یوه پراخه سیمه ده چې پریمانه کلي او کروندې لري، معجم البلدان، دویم ټوک، **۳۵۸**مخ.

د سیف جعلي اصحاب مونږ په خپل کتاب "یو نیم سل جعلي صحابه" او هم دغه رنګ مو هغه روایتونه، جاجولي او څیړنه مو پرې کړې ده.

د صحابي په تعریف کښې د دوو مکتبونو د نظریاتو په جاج پسې اوس په دواړو مکتبونو کښې د اصحابو په عدل او انصاف غور کوو.

# په دواړو مکتبونو کښې
# د اصحابو عدل او انصاف

## ۱- د اصحابو د عدالت په باب د خلفاؤ د مکتب نظریه

د خلفاؤ مکتب ټول اصحاب عادل گڼي او د ديني علمونو په ترلاسه کولو کښې هغوي ټولو ته مراجعه کوي. د جرح او تعديل لارښود او پېشوا، ابو حاتم رازي[1] د خپل کتاب په سريزه کښې وائي:

"او د خدای د گران رسولﷺ اصحاب، هغه کسان دي چې د وحي او کتاب د نازلېدو شاهدان وو، او تفسير او تاويل يې پېژندلے دے، هغه کسان چې خدای عزوجل، هغوي له خپل پېغمبرﷺ سره د ملگرتيا او صحبت لپاره

---

۱. ابو محمد عبدالرحمن بن ابي حاتم رازي (وفات ۳۲۷ هجري) د "تقدمة المعرفة لكتاب الجرح والتعديل" د کتاب خاوند، په ۱۳۷۱ هجري، حيدر اباد چاپ، ۷ او ۹مخ.

غوره کړي او خپله مرسته، د دين ټينګتيا او د حق ښکاره کول يې ورته ورسپارلي وو، هغوي يې د پېغمبراکرمﷺ اصحاب خوښ کړي او زمونږ بزرګان او پېشوايان يې ګرځولي دي. هغه حضرت چې هر څه سنت وګرځول تشريح يې کړل، هر څه يې چې حکم وکړ او فرض يا مستحب يې وګرځول او هر څه يې امر او نهي کړل،هغوي ټول زده کړل او وې ساتل او استحکام يې وروبخښۀ، نو په دين کښې فقيهان شول، او د خدا ے امر او نهي او د هغۀ مقصد يې د کتاب او تفسير او تاويل په مشاهدې سره د رسول اللهﷺ په شتون کښې او له هغه څخه په اخېستلو او استنباط سره وپېژندل، خدا ے عزوجل په دې وسيله هغوي ته شرافت وبخښۀ او د پيشوائی په مقام يې د هغوي په ګرځولو سره د هغوي درناوے وکړ او له هغوي يې شک، دروغ، غلط، وياړ او عيب لرې کړل او هغوي يې د امت فرياد اوريدونکي ونومول او په خپل محکم کتاب کښې يې وفرمايل:

﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَٰكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا۟ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ﴾

"او په دې ډول مو تاسو مینځنی امت وګرځولئ چې په خلقو ګواه اوسئ." ۱

او پیغمبرﷺ د خدای پاک د قول "وسطاً" تفسیر په "عدولاً" یعنې منصف (عادل) وکړ، نو هغوي د امت منصفان، د هدایت پیشوایان، د دین حجتونه یعنې دلیلونه او د کتاب او سنت نقل کوونکي دي او الله جل شانه په خپلې لارې د هغوي برلاسے او په دې لاره تګ او د هغوي پیروي محبوبه ګرځولې او بلنه یې ورکړې ده او وې فرمایل:

﴿وَيَتَّبِعۡ غَيۡرَ سَبِيلِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ﴾. او هر څوک چې له مؤمنانو بغېر د لارې پیروي وکړي، هغه په هماغه لارې چې ځي، بوځي یې"۲

۱. سوره بقره: ۱۴۳.

۲ .د سوره نساء:۱۱۵، د اهلبیتو مکتب د دغو ټولو مقصود او مراد، مؤمنان اصحاب ګڼي، لکه څنګه چې د ایت تصریح دا ده او انشاء الله توضیح یې وروسته راځي.

مونږ په ډېرو روایتونو کښې لیدلي دي چې پېغمبرﷺ خپل اصحاب تبلیغ او نورو ته د خپلو خبرو رسولو ته هڅول او هغوي ته یې فرمایل: «نَضَّرَ اللّهُ امْرِءاً سَمِعَ مَقالَتی فَحَفظَها وَ وَعاها حَتّی یُبلِّغها غَیْرَه.» خدا ے تعالیٰ دې خوشحاله کړي هغه څوک چې زما خبره واوري او هغه حفظ وساتي چې نورو ته یې ورسوي".

هغه مبارک په خپلې خطبې کښې وفرمایل: باید تاسو حاضرین زما وېنا غائبینو ته ورسوئ او وي فرمایل:

«بَلِّغُوا عَنّی وَ لَو آیةً وَ حَدِّثُوا عَنّی وَ لا حَرَجَ»، زما له خوا تبلیغ کوئ که څه هم یو ایت ولې نه وي او زما حدیثونه نورو ته ورسوئ چې په تاسو کومه ګناه نشته"

له دې وروسته، اصحاب په پولو، ښارونو او خواوشا کښې خوارۀ وارۀ شول او په جنګونو، د هیوادونو په ازادولو، قومندانیو، قضاوت او فېصلې کولو بوخت شول، او په هغوي کښې هر یو په خپل استوګن ځا ے کښې هغه څه چې له رسول اللهﷺ مبارک یې اوریدلي وو، خپارۀ کړل او د خدا ے له رسولﷺ څخه یې د خپلو معلوماتو په بنیاد د

پوښتنو ځوابونو او فتوو ته مخه کړه، هغوي په قربت او ښهٔ نیت سره ځانونه خلقو ته د دندو، حکمونو، سنتونو او د خدا ے د حلالو او حرامو یادولولپاره وقف کړل، تر هغه وخته چې الله جل شانه هغوي وبلل او روح یې ترې واخېستهٔ، د خدا ے رحمت، رضایت او بخښنه دې د هغوي په برخه وي.

ابن عبدالبر د خپل کتاب "الاستیعاب" په سریزه کښې وائي: "د ټولو اصحابو عدل او انصاف ثابت د ے".[1]

بیا مو هماغه ډول چې د رازي له قوله راوړل، د هغو ایتونو او روایتونو په راوړلو پیل کوي چې د مؤمنانو په حق کښې راغلي دي.

ابن اثیر د "اسد الغابة" په سریزه کښې وائي:

---

۱. الاستیعاب في اسماء الاصحاب، تالیف حافظ محدث ابو عمر یوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر نمري قرطبي مالکي (زیږن کال۳۶۳، فوت۴۶۳) د هغه عبارتونه مو د حاشیه "الاصابه" له نسخې نقل کړي دي.

" هغه سنتونه چې د حکمونو تفصيل، د حلالو او حرامو پېژندنه او د دين نورې چارې يې په بنياد دي، يوازې هغه وخت ثابت دي، چې د اسنادو رجال او د هغو راويان پېژندل شوي وي د پېغمبراکرمﷺ په ټولو اصحابو ترجيح لري او که چېرې څوک هغوي ونهٔ پيژني نو د نورو په نسبت د هغوي ناپوهي لازياته او انکار يې هم لازيات دے، نو غوره دا ده چې د هغوي حال او نسب ښه وپېژندل شي.

د پېغمبرﷺ اصحاب په دغو ټولو موردونو کښې له نورو راويانو سره مشترک دي، خو په جرح او تعديل کښې، ځکه چې هغه ټول عادلان دي او په هغوي باندې شک او اشکال منع دے".[1]

ابن حجر د خپل کتاب "الاصابه" د سريزې په دريم باب کښې د اصحابو د حال او د هغوي د عدل او انصاف په بيان کښې وائي: "اهل سنت په دې حقله چې ټول اصحاب عادلان دي،

---

۱ ."اسدالغابة في معرفة الصحابه" تاليف ابوالحسن عزالدين علي بن محمد عبدالکريم جزري، مشهور په ابن اثير (وفات۲۳۰ھ) لومړی ټوک ۳مخ.

د نظر اتفاق لري، او هيچا په دې باب مخالفت نه دے کړے خو په بدعت کوونکو کښې ډيرو لږو کسانو"

هغۀ له ابوزرعه څخه روايت کړے چې ويلې يې دي:

"هر کله چې داسې څوک ووينئ چې د خدا ے د رسولﷺ يو صحابي ردوي او نۀ يې مني نو پوه شئ چې هغه زنديق دے، ځکه چې د خدا ے رسول حق دے، قران کريم حق دے، هر څه چې يې راوړي حق دي، دا ټول هر څه مونږ ته يوازې اصحابو رسولي دي، او دغه ډله زمونږ د ګواهانو په خلاف ورزي او جرح سره د کتاب او سنت په تباهي او باطلولو پسې ده، نو د ځانونو خلاف جرح يې لاغوره ده، پس هم هغوي زنديقان دي".[1]

---

۱ .الاصابه في تميزالصحابه تاليف حافظ شهاب الدين احمد بن علي بن محمد کناني عسقلاني شافعي په ابن حجر مشهور، (زوکړه ۷۷۳، وفات۸۵۳هـ) د مصر چاپ، المکتبة التجاريه، ۱۳۵۸هـ، وړومبے ټوک۱۷-۲۲مخونه "ابوزرغه" عبدالله بن عبدالکريم بن يزيد بن حجريه "تقريب التهذيب" کتاب (دويم ټوک ۵۳۲مخ، ۱۴۷۹ نمبر) کښې د هغه په حقله وائي: امام حافظ ثقة، د راويانو په يولسمې پرګنې کښې مشهور

دا د اصحابو د عدل او انصاف په حقله د خلفاؤ د مکتب نظریه وه، اوس په دې باب د اهل بیتو علیهم السلام نظریه بیانوو.

## ۲- د اصحابو د عدل په حقله د اهلبېتو علیهم السلام د مکتب نظریه

### د اهلبېتو علیهم السلام مکتب د قران کریم په پېروی کښې وائي

په اصحابو کښې داسې مؤمنان شته چې پاک خدا ے هغوي په قران کریم کښې ستائېلي دي لکه چې د بېعت شجره په باب یې فرمایلي دي:

﴿لَّقَدْ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَٰبَهُمْ

---

دے، په ۲۶۴هـ کال کښې وفات شو، د صحیحینو خاوندانو، مسلم، ترمزي، نسایي او ابن ماجه، له هغهٔ روایت کړے دے. زهٔ وایم : په رښتینولی نهٔ شو پوهیدلې، چې امام ابوزرعه د خداي د رسول د اصحابو د منافقینو په هکله څه وایي؟

فَتْحًا قَرِيبًا﴾[۱]

"خدا ے له هغو مؤمنانو څخه چې کله تر ونې لاندې یې ستا بیعت وکړ، راضي شو او خبر وو چې د هغوي په زړونو کښې څه تېرېږي، له دې امله یې د هغوي په زړونو اطمینان او قراری نازله کړه او په نزدې راتلونکي کښې یې بریالیتوب (فتح) د هغوي اجر وګرځوه".

لکه څنګه چې ښکاره ده، دا ستائېنه په بیعت شجره کښې د حاضرو مؤمنانو ځانګړتیا ده، او د عبدالله بن اُبَي او نورو په څېر حاضر منافقان په کښې نه شاملېږي.[۲]

د اهلبېتو علیهم السلام مکتب هم دغه رنګ له قران مجیده په پېروی سره، په اصحابو کښې داسې منافقین ویني چې خدا ے په ګڼ شمېر ایتونو کښې هغه سپک کړي دي، د لو ے خدا ے د دې خبرې په څېر چې فرمائي:

۱. سوره فتح: ۱۸ .
۲. په مغازي واقدي او خطط مقریزي کښې د بېعت شجره (بېعت رضوان) واقعې ته مراجعه وشي.

﴿وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ مُنَٰفِقُونَ ۖ وَمِنْ أَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ ۖ مَرَدُوا۟ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ ۖ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۚ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ﴾[۱]

"له اعرابو څخه، هغه ځنې کسان چې ستا په خواوشا کښې دي، منافقان دي او د مدينې له اوسيدونکيو هم يوه ډله په نفاق سخته پابنده ده، ته (پېغمبر) هغوي نه پيژنې خو مونږ هغوي ښهٔ پيژنو، ډېر زر به هغوي دوه ځله سزا کړو، او د ستر عذاب په لوري به شړل کيږي".[۲]

---

۱. سوره توبه: ۱۰۱.

۲. د سوره نور په ۱۱ او ۱۷ ايتونو کښې د افک واقعې ته اشاره ده، چې د بي بي عائشې په بيزارې کښې په هغه تهمت چې په هغې يې لګولےؤ، پخپله د هغې په روايت، يا له بي بي عائشې نه بغېر د بل د روايت په بنياد له دغه تهمته د بي بي ماريې په بري کولو کښې لکه څنګه چې د ام المؤمنين بی بی عائشې د حديثونو (د عربې متن) په دويم ټوک کښې راغلي دي.

هو، په اصحابو کښې داسې کسان وو چې خدای د خپل پېغمبرﷺ په حریم د هغوي د تهمت او افک په حقله خبر ورکړې دی، له داسې وېنا خدای ته پناه. او په اصحابو کښې داسې کسان هم وو چې خدای پاک د هغوي په حقله فرمايي:

﴿ وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا﴾

"کله چې تجارت یا فضولیات او لوبې ویني، تیت پرک شي او په هغو پسې ځي، او تا (پېغمبر) ولاړ په خپل حال پرېږدي"[1]

دا پېښه هغه وخت وشوه چې پېغمبراکرمﷺ په خپل جومات کښې د قيام په حال کښې د جُمعې د نمانځه خطبه لوستله، په اصحابو کښې داسې کسان وو چې غوښتل يې د خدای ګران رسولﷺ په «عقبه هرشی» کښې د تبوک[2]

---

۱ . سوره جمعه: ۱۱.
۲ . مسند احمد، پينځم ټوک ۳۹۰ او ۴۵۳مخ، صحیح مسلم، اتم ټوک ۱۲۲ او ۱۲۳مخونه، د منافقينو د صفت په باب کښې، مجمع الزوائد،

له غزا یا حجة الوداع څخه د ستنیدو په وخت په پټه قتل کړي.[۱]

یقیناً له پېغمبراکرمﷺ سره ملګرتیا او صحبت له هغه مبارک سره د وادۀ له شرافته غوره نه وي، ځکه چې د رسول اکرمﷺ د مېرمنو مصاحبت د ملګرتیا او هم صحبتۍ تر ټولو لوړه درجه ده، په عین حال کښې، متعال خدای هغوي مخاطب کړې دي او فرمائي:

﴿يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ مَن يَأۡتِ مِنكُنَّ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖ يُضَٰعَفۡ لَهَا

ورومبی ټوک ۱۱۰مخ او شپږم ټوک ۱۹۵مخ، مغازي واقدي، دریم ټوک ۱۰۴۲مخ، امتاع الاسماع مقریزي، ۴۷۷مخ، تفسیر درالمنثور، دریم ټوک ۲۵۸ او ۲۵۹مخ، په تفسیر کښې د سوره توبه د ۷۴ ایت ﴿وَهَمُّواْ بِمَا لَمۡ يَنَالُواْ﴾.

۱ .د شیعه ؤ له لارې په راغونډ شویو حدیثونو کښې راغلي دي، دا پېښه د غدیر خم په خاطر له وروستي حجه د پېغمبراکرمﷺ د ستنېدو په موقع د جحفه په ټاټوبي کښې شوې وه، مراجعه وکړئ، بحارالانوار، ۲۸ ټوک، ۹۷مخ، په ۱۳۹۲ه کښې د تهران چاپ.

ٱلۡعَذَابُ ضِعۡفَيۡنِۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿٣٠﴾ وَمَن يَقۡنُتۡ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتَعۡمَلۡ صَٰلِحًا نُّؤۡتِهَآ أَجۡرَهَا مَرَّتَيۡنِ وَأَعۡتَدۡنَا لَهَا رِزۡقًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسۡتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ ﴾[1]

"اے د **پېغمبر**ﷺ مېرمنو! که په تاسو کښې هره یوه په ښکاره ګناه وکړي، عذاب به یې دوه چنده وي، او دا د خدا ے لپاره اسان کار دے، او په تاسو کښې چې هر یو د خدا ے او د هغهٔ د رسولﷺ په وړاندې خاکساري وکړي او نېک **عمل** وکړي، اجر به یې هم دوه چنده ورکوو د هغوي لپاره مو نېک رزق تیار کړے دے، اے د **پېغمبر**ﷺ مېرمنو! تاسو د نورو ښځو په شان نه یئ که چرې پرهېزګارې اوسئ ..."

خدا ے پاک په هغوي کښې د دوو تنو په حقله فرمائي:

---

۱ .سورهٔ احزاب: ۳۰- ۳۲.

﴿إِن تَتُوبَآ إِلَى ٱللَّهِ فَقَدۡ صَغَتۡ قُلُوبُكُمَاۖ وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيۡهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوۡلَىٰهُ وَجِبۡرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ﴾ ـ الى قوله تعالى ـ ﴿ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱمۡرَأَتَ نُوحٖ وَٱمۡرَأَتَ لُوطٖۖ كَانَتَا تَحۡتَ عَبۡدَيۡنِ مِنۡ عِبَادِنَا صَٰلِحَيۡنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمۡ يُغۡنِيَا عَنۡهُمَا مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَقِيلَ ٱدۡخُلَا ٱلنَّارَ مَعَ ٱلدَّٰخِلِينَ ﴿١٠﴾ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ إِذۡ قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا فِي ٱلۡجَنَّةِ﴾... ﴿وَمَرۡيَمَ ٱبۡنَتَ عِمۡرَٰنَ﴾...

"که تاسو دواړه ښځې توبه وکړئ (ستاسو په ګټه ده) ځکه چې ستاسو زړونه له حقه غړیدلي دي او که د هغهٔ (پیغمبرﷺ) په خلاف په خپلو کښې ملګري شئ نو په تحقیق سره خدا ے، جبرائیل او د مومنانو صالح یې ملګري

او مرستندوي دي او له هغوي وروسته فرښتې يې ملاتړې دي، پاک خدا ے د هغو کسانو لپاره چې کافران شول د نوح او لوط د ښځو مثال راوړے دے، هغه دواړه زمونږ د دوو صالحو بندګانو تر سرپرستۍ لاندې وې، خو له هغو دواړو سره يې خيانت وکړ خو د هغوي دواړو ملګرتيا په هيڅ شان هغوي له خدايه بې نيازه نه کړې او هغو دوو ته وويل شول چې له دوزخيانو سره يو ځا ے اور ته داخلې شئ، او خدا ے د مؤمنانو لپاره د فرعون د مېرمن مثال راوړے دے کله چې يې وويل: پروردګاره! زما لپاره له ځان سره نزدې په جنت کښې يو کور جوړ کړه ... او هم دغه رنګ د عمران لور بي بي مريم ...[1]

د خدا ے ګران پېغمبرﷺ د قيامت په ورځ د ځينو اصحابو د حال په بيان کښې فرمايي: «وَ انَّهُ يُجاءُ مِنْ اُمَّتى، فَيُؤخَذ بِهِم ذاتَ الشِّمالِ فَأقُولُ يا رَبِّ اُصَيْحابى، فيُقال: إنَّكَ لاتَدْرى ما اَحْدَثُوا بَعْدَك، فَأقُول كَما قالَ الْعَبْدُ الصّالح﴿

۱ .سوره تحريم: ۴، ۱۰ ، ۱۲.

وَكُنتُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا مَّا دُمۡتُ فِيهِمۡۖ فَلَمَّا تَوَفَّيۡتَنِي كُنتَ أَنتَ ٱلرَّقِيبَ عَلَيۡهِمۡۚ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ﴾[۱] **فَيُقال: إنّ هؤُلاءِ لَم يَزالُوا مُرتدّين عَلى أعْقابِهِم مُنْذُ فارَقْتَهُم**»؛

"او د قيامت په ورځ به زما د امت يو شمېر وګړي ډګر ته راوستل شي او د دوزخ په لور به بوتلل کيږي، زهٔ به وايم: پروردګارا! (دا) زما اصحاب (دي)! ويل کيږي به: ته نهٔ يې خبر چې ستا له تګه وروسته يې کوم بدعتونه وکړل، نو زهٔ به هم هغوي ته هماغه وايم چې د خدا ے صالح بنده (د مريم زوے عيسیٰ) وويل: زهٔ تر هغه وخته پورې چې ستاسو په مينځ کښې ؤم، د هغوي له حاله خبر ؤم خو کله چې دې د هغوي له مينځه واخېستم، ته په خپله د هغوي ځارونکے وې، نو ويل کيږي به: چې کله ترې جدا شوې دغې ډلې په

۱. سوره مائده: ۱۱۷.

پرله پسې له دینه مخ واړوۀ او خپل تېر وخت ته ستانه شول.[۱]

په بل روایت کښې راغلي دي: «لَیَرِدَنّ عَلَیَّ ناسٌ مِنْ أصْحابی الْحَوضَ حَتّی عَرَفْتُهُم اخْتَلَجُوا دُونی فَأقُولُ: أصْحابی، فَیَقُولُ: لا تَدْری ما أحْدثُوا بَعْدَكَ» ؛

"زما یو شمېر اصحاب به په حوض کوثر ماته راوستې شي، چې وې پېژنم، بیا به یې له ما جدا کړي، وایم به (دا) خو زما اصحاب (دي)! وائي به ته نۀ یې خبر ستا له تګه او رحلته وروسته یې څه بدعتونه وکړل"[۲]

په صحیح مسلم کښې دا سې راغلي دي:

---

۱. بخاري، د مائدې سورې د ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ﴾ په تفسیر کښې او د سورۀ انبیاء تفسیر، ترمذي: د قیامت صفت باب، د حشر په شان کښې د راغلیو روایتونو باب او د سورۀ طه تفسیر.
۲. بخاري، د دعوت کتاب، باب فی الحوض، ابن ماجه، د مناسکو کتاب، ۵۸۳ حدیث مسند احمدبن حنبل، وړومبې ټوک۴۵۳مخ، درېیم ټوک ۲۸مخ، پینځم ټوک ۴۸مخ.

«لَیَرِدَنَّ عَلَیَّ الْحَوْض رِجالٌ مِمَّنْ صاحَبَنی حَتّی إذا رَأَیْتُهُم رَفَعوا إلَیَّ اخْتَلَجُوا دُونی، فَلَأَقُولَنَّ: أیْ رَبِّ أُصَیْحابی، فَلَیُقالَنَّ لی: إنَّك لا تَدْری ما أَحْدَثُوا بَعْدَك»؛

"زما ځینې اصحاب به په حوض کوثر زما خوا ته راوستې شي چې خپلې خوا ته د هغوي راتګ وینم نو له ما به یې جدا کړي، وایم به: پروردګاره! زما اصحاب! ما ته به وویل شي: تهٔ نه یې خبر ستا له تګه وروسته یې کوم بدعتونه وکړل.[۱]

## ۳- د مؤمن او منافق د پېژندنې ضابطه (قاعده)

لکه څنګه چې د خدا ے د ګران رسولﷺ په اصحابو کښې یو شمېر منافقان وو، چې له خدا ے پاک نه بغېر بل چا نه پیژندل، له دې امله، پېغمبراکرمﷺ فرمایلي دي: "علي نهٔ خوښوي مګر مؤمن او هغه دښمن نه ګڼي مګر منافق". یعنې له مومن نه بغېر بل څوک له عليعليه‌السلام سره مینه نه لري او له

---

۱. صحیح مسلم، کتاب فضائل، باب اثبات حوض نبینا، حدیث ۴۰.

منافق نه بغېر ورسره څوک دښمني نه کوي، دا حديث امام عليعليه السلام[1]، ام المؤمنين بي بي ام سلمی[1]، عبد الله بن

---

۱. حضرت عليعليه السلام د ابوطالب زوے په کعبه کښې وزيږيدۀ، لکه څنګه چې حاکم په مستدرک (۳۰ ټوک ۴۸۳مخ) کښې هغه روايت کړے دے او هم، مالکي په "الفصول المهمه"، مغازلی شافعی په مناقب کتاب کښې او شبلنجی د نورالابصار په ۲۹مخ کښې راوړي دي چې د هغه حضرت پېدائش د ۱۳ عام الفيل د رجب د مياشتې په ديارلسمه نيټه ؤ. په **۳۵** هجري کال کښې مهاجرانو او انصارو له هغوي سره بيعت وکړ او په ۴۰ هجري کال د روژې د مياشتې په نولسمه نيټه ابن ملجم مرادي هغه حضرت ژوبل کړ او هم د دغې مياشتې په يويشتمه نيټه شهيد شو. د صحاحو ليکونکو **۵۳۲** حديثونه له هغه حضرت څخه نقل کړي دي او د ژوند حال يې په الاستيعاب، اسد الغابه، الاصابه او جوامع السيره (**۲۷۲**مخ)کتابونو کښې موجود دے او د منافقانو په باره کښې د هغه حضرت حديثونه په صحيح مسلم (وړومبي ټوک **۲۱**مخ) صحيح ترمذي (۱۳ ټوک ۱۷۷مخ) سنن ابن ماجه يولسم باب په سريزه کښې، سنن نسايي (۲ ټوک ۲۷۱مخ) د مؤمن او منافق د نښو په باب کښې، خصائص نسايي۳۸مخ، مسند احمد ( د وړومبي ټوک په **۹۵**،۸۴ او ۱۲۸مخونو کښې) تاريخ بغداد (۲ ټوک **۲۵۵**مخ، ۸ ټوک ۴۱۷مخ، ۱۲ ټوک ۴۲۲مخ) د ابونعيم حلية الاولياء (۴ ټوک **۱۸۵**مخ) هغه وائي چې دا حديث صحيح دے او ټول پرې اتفاق لري، د ذهبي تاريخ الاسلام (۲

ټوک ۱۹۸مخ، تاریخ ابن کثیر (۲ ټوک ۳۵۴مخ) او د هغوي د ژوند حال د الاستیعاب په ۲ ټوک ۴۲۱مخ، اسدالغابه ۴ ټوک ۲۹۲مخ، کنزل العمال ۱۵ ټوک ۱۰۵مخ، ریاض النضره ۲ ټوک ۲۸۴مخ کښې راغلے دے.

۱. ام المؤمنین "ام سلمی " هند چې د ابو امیه بن مغیره قرشي لور، له پېغمبراکرمﷺ نه وړاندې د "ابوسلمه" ښځه وه، له خپل خاوند سره یې اسلام راوړۀ او ورسره یې حبشې ته هجرت وکړ او بیا یې مدینې ته، کله چې د هغې خاوند د احد په جنګ کښې ژوبل شو او د هجرت په دریم کال شهید شو، نو پېغمبرﷺله هغې سره وادۀ وکړ. ام سلمه د امام حسینؑ له شهادته وروسته په ۶۰ هجري کال کښې په حق ورسیده، د صحاحو لیکوالانو له هغې نه ۳۷۸ حدیثونه نقل کړي دي. د هغې او د هغې د اول میړۀ د ژوند له حالاتو نه پوره د خبریدو لپاره دې کتابونو ته مراجعه وکړئ: اسد الغابه، جوامع السیره ۲۷۲مخ، تقریب التهذیب ۲ ټوک ۲۱۷مخ. د منافقینو په حقله د هغې حدیث په صحیح ترمذي ۱۳ ټوک ۱۶۸مخ، مسند احمد ۶ ټوک ۲۹۲مخ، الاستیعاب ۲ ټوک ۴۲۰مخ، لهمختلفو لارو نقل شوے، او په تاریخ ابن کثیر ۷ ټوک ۳۵۴مخ، کنزالعمال۶ ټوک ۱۵۸مخ وړومبي چاپ کښې راغلے دے.

عباس [۱]، او حضرت ابوذر غفاري[۲]، انس بن مالک[۳] او عمران بن حصين ټولو روايت کړے دے او د پېغمبر اکرمﷺ په زمانه کښې خپور شوے او مشهور ؤ.

---

۱. عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب د پېغمبراکرمﷺ د ترهٔ زوے، له هجرته درې کاله وړاندې وزيږيد او په ۶۸ هجري کال کښې په طائف کښې وفات شو. د صحاحو ليکوالانو ۱۶۶۰ حديثونه له هغهٔ نقل کړي دي. د هغهٔ د ژوند حال په اسد الغابه، الاصابه او جوامع السيره ۲۷۶مخ باندې راغلے دے.

۲. ابوذر، جندب يا بريد بن جناده، چې اسلام ډيرومخکې قبول کړې او هجرت يې کړې، د جنګ بدر نه وروسته د خداے ګران رسولﷺ سره په هر يو جنګ کې شريک ؤ. په ۳۲ هجري کال د ربذې په دشته کښې د جلاوطنۍ په حال کښې وفات شو. د صحاحوليکوالانو له هغه نه ۲۸۱ حديثونه نقل کړي دي. د هغه د ژوند حال په تقريب ۲ ټوک ۴۲۰مخ، جوامع السيرة ۲۷۷مخ، او عبدالله بن سبا کتاب په دويم ټوک کښې راغلے دے.

۳. د انس بن مالک په حقله ويلې شي چې لس کاله د پېغمبرﷺ خادم ؤ، لاسونه به يې تر څنګلو د سپين والي(برص) په وجه په يوې پټې پټول. او دا مرض بې د هغه ښبرو په وجه ؤ چې عليؑ دهٔ ته کړې وې ځکه چې د غدير له حديثه انکار يې کړے ؤ، نو عليؑ له خدايه وغوښتل چې يوه نمونه سپين والے په هغهٔ

ابوذرغفاري وائي: مونږ به منافقان نۀ پېژندل مګر داسې چې له خدا ے پاک، د هغۀ له ګران رسولﷺ به يې انکار وکړ، واجب نمونځونو څخه به يې مخ واړوۀ، او له عليعليه السلام سره به يې دښمني کوله.[۱]

ابو سعيد خدري وائي: مونږ (انصارو) به د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې منافقان له عليعليه السلام سره په بغض او کينه باندې پيژندل.[۲]

---

ولګوي چې په عامې(پټکې) نه پټيګي. د دې واقعې لنډ بيان په الاعلاق النفيسه کتاب کښې په ۱۲۲مخ راغلے دے. او په تفصيل سره د نهج البلاغې د شرح د ۲ ټوک په ۳۸۸مخ موجود دے. هغه له ۹۰ هجري وروسته په بصره کښې وفات شو. د صحاحو ليکوالانو له هغه نه ۲۲۸۲ حديثونه نقل کړي دي، د هغۀ ژوند ليک په اسد الغابه، تقريب التهذيب او جوامع السيرة ۲۷۲مخ کښې راغلے دے. د منافقانو په حقله د هغۀ روايت د کنزل العمال د ورومبي چاپ د ۷ ټوک په ۱۴۰مخ کښې راغلے دے.

۱ .مستدرک الصحيحين ۳ ټوک ۱۲۹مخ او کنزل العمال ۱۵ ټوک ۹۱مخ.

۲. ابو سعيد بن مالک بن سنان خزرجي جذري د خندق او له هغۀ نه په وروستو غزاګانو کښې شرکت وکړ. په ۶۳ يا ۶۴ يا ۶۵ کال کښې په

عبدالله بن عباس وائي: مونږ به د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې منافقان له عليؑ سره په بغض او کينه باندې پېژندل.[۱]

جابر بن عبدالله انصاري وائي: مونږ به منافقان يوازې په دې پېژندل چې له عليؑ سره به يې دښمني لرله.[۲]

---

مدينه منوره کښې وفات شو. او ځينو ۷۴ کال نقل کړے دے. د صحاحو ليکوالانو له هغۀ څخه ۱۱۷۰ حديثونه نقل کړي دي د هغۀ د ژوند حال په اسدالغابه ۲ ټوک ۲۹۸مخ، تقريب التهذيب ۱ ټوک ۲۸۹مخ او جوامع السيره ۲۷۶مخ باندې راغلے دے. د منافقانو په حقله د هغۀ حديثونه د ترمذي په ۱۳ ټوک ۱۲۷مخ، حلية الاولياء ابونعيم ۲ ټوک ۲۸۴مخ باندې راغلي دي.

۱. تاريخ بغداد ۳ ټوک ۱۵۳مخ.

۲. جابر بن عبد الله بن عمر انصارى ، پخپله صحابي دے او د صحابي زوے دے د عقبى په بيعت کښې له خپل پلار سره موجود ؤ او په ۱۷ جنگونو کښې يې له پېغمبراکرمﷺ سره شرکت کړے ؤ، د صفين په جنگ کښې هم له حضرت عليؑ سره ملګرے ؤ له ۷۰هجري کال نه وروسته په مدينه کښې وفات شو. د صحاحو ليکوالانو له هغۀ څخه ۱۵۴۰ حديثونه نقل کړي دي. د هغۀ د ژوند حال د اسدالغابه په وړومبي

دغو روایتونو او د رسول اللهﷺ خبرو ته په پام سره چې د حضرت علي‌؏ په باره کښې فرمايي:

«أللّهُمَّ والِ مَنْ والاه وَ عادِ مَنْ عاداه»؛

«خدايه! د علي‌؏ له مینه والو سره مینه ولرې او د هغهٔ له دښمنانو سره دښمني وکړې.»[1]

ټوک ۲۵۲ او ۲۵۷مخونو، تقريب التهذيب په ورومبي ټوک ۱۲۲مخ او د جامعه السيره په ۲۷۲مخ کښې راغلے دے.د منافقانو په حقله د هغهٔ روايت د الاستيعاب په ۲ ټوک ۴۲۲مخ،تاريخ ذهبي ۲ ټوک ۱۹۸مخ او مجمع الزوائد ۹ ټوک په ۱۳۳مخ کښې راغلے دے.

۱. صحيح ترمذي ۱۳ ټوک ۱۲۵مخ د مناقب علي‌؏ په باب کښې. سنن ابن ماجه د علي‌؏ د فضيلت په باب کښې ۱۱۲ حديث. خصائص نسائي ۴ او ۳۰مخ، مسند احمد ۱ ټوک ۸۴، ۸۸، ۱۱۸، ۱۱۹، ۱۵۲ او ۳۳۰مخونه او څلورم ټوک ۲۸۱، ۳۲۸، ۳۷۰ او ۳۷۲مخونه او پينځم ټوک ۳۰۷، ۳۴۷، ۳۵۰، ۳۵۸، ۳۶۱، ۳۶۲، ۴۱۹، ۵۶۸مخونه، مستدرک صحيحين دوم ټوک ۱۲۹مخ او ۳ ټوک ۹مخ، رياض النضرة دويم ټوک ۲۲۲-۲۲۵مخونه، تاريخ بغداد ۷ ټوک ۳۷۷مخ او ۸ ټوک ۲۹۰مخ او ۱۲ ټوک ۳۴۳مخ کښې اوداسې نورې ډيرې سرچينې.

دغو ټولو روایتونو ته په پام سره د اهلبیتو﵈ د مکتب لارویان او پېروکار د دینی مضامینو او علمونو په راخېستلو کښې له هغو اصحابو چې له علي﵇ سره یې دښمني کړې ده إحتیاط کوي. ځکه چې کېدې شي دا اصحابان له هغې منافقې ډلې وي چې بې له خدایه یې بل څوک نه پېژني.

حمزه بابا هم اعتراف کوي چې هر کله زهٔ د ابوتراب﵇ یعنې حضرت علي﵇ له مقامه نهٔ وم خبر نو نور اصحاب راته د پاس اسمان غوندې او چت ښکارېدل وائي:

زهٔ لــه خپـــل دښمن شبــابه خبر نهٔ وم
تصور کښې لـــــه حجــابــه خبر نهٔ وم
نور اصحاب لکه اسمان وو ما حمزه ته
څـــو چـــې زهٔ لــه بوترابــه﵁ خبر نهٔ وم

﴿والحمدُ لله رَبّ العالَمِينْ﴾